د افغانستان اسلامي امارت

د کــورنیــو چـــارو وزارت

د پالیسی او ستراتېژۍ معینیت

د پلان او پالیسي لوی ریاست

د پـالیسي ریاست

# د ښکاري ټوپکونو څخه د ګټې اخیستنې کړنلاره

# طــرزالعمل استفاده از تفنگ های شکاری

پښتو او دري

د ثبــت ګــڼه: ( ۱۳ )

د منظورۍ نېټه: ( ۱۴۴۴/۸/۲۹ )

د پاڼو شمېر: ( ۱۹ )

د افغانستان اسلامي امارت
د کورنیو چارو وزارت
د پالیسي او ستراتیژۍ معینیت
د پالیسي او پلان لوی ریاست

# لیکلړ


لومړی امر ........................................ ۱
سریزه ........................................ ۲
مبنی ........................................ ٤
موخې ........................................ ٤
د تطبیق ساحه ........................................ ٤
اصطلاحات ........................................ ٥
دویم فصل ........................................ ٦
د جواز صادرول ........................................ ٦
د صدور مرجع ........................................ ٦
د واردولو جواز ........................................ ٦
اجازه نامه ........................................ ٧
پروسیجر (کړندود) ........................................ ٨
ښکاري ټوپکو ته جواز ورکول ........................................ ٨
دریم فصل ........................................ ۱۲
مکلفیتونه ........................................ ۱۲
واردونکي ........................................ ۱۲
نماینده‌گی او مالکین ........................................ ۱۳
مسئولې اداري ........................................ ۱۳
نماینده‌گی‌ها و مالکین ........................................ ۱۳
ممنوعیتونه ........................................ ۱۵
څلورم فصل ........................................ ۱٦
متفرقه حکمونه ........................................ ۱٦
خپرول او اړیکې ........................................ ۱٦
تطبیق او څارنه ........................................ ۱٦
لوستل او بیا کتنه ........................................ ۱٦


د افغانستان اسلامي امارت
د کورنیو چارو وزارت
د پالیسي او ستراتیژۍ معینیت
۱۴۴۳ هـ ق
۱۴۰۰ هـ ش
د پالیسي او پلان لوی ریاست

## لومړی امر

**الحمدلله رب العالمین والصلاة والسلام علی اشرف الانبیاء والمرسلین وعلی اله واصحابه اجمعین اما بعد:**

دا چې د کورنیو چارو وزارت په ټول هېواد کې د سر تاسرې امنیت او عامه نظم د تأمینولو مسؤلیت پر غاړه لري بناءً د پایلو پر بنسټ د منظور شوي کلني پلان په نظر کې نیولو سره د (**ښکاري ټوپکونو څخه د ګټې اخیستنې کړنلارې**) تر عنوان لاندې د وحشي حیواناتو ژوند د ژغورنې او په غیر مسؤولانه توګه د وسلو ګرځولو د مخنیوي په غرض د ښکاري ټوپکونو (چره یي، موشکش، سپورتي او عتیقه) د واردولو، ساتلو او ترانزیت د کنترول په موخه دا کړنلاره ترتیب شوې، نو د کورنیو چارو وزارت ټولو قدموته یې د پلي کولو حکم کوم.

## امر نخستین

**الحمدلله رب العالمین والصلاة والسلام علی اشرف الانبیاء والمرسلین وعلی اله واصحابه اجمعین اما بعد:**

وزارت امور داخله، مسئولیت تأمین نظم و امن عامه درسرتاسر کشور را به عهده دارد بناءً بادرنظرداشت پلان منظور شده سالانه وبه اساس نتایج حاصله سند ای را تحت نام (**طرزالعمل استفاد از تفنگ های شکاری**) به منظور حفظ حیات وحش و غرض جلوگیری از حمل و نقل سلاح به صورت غیر مسوولانه تفنگ های شکاری(چره یی، موشکش، سپورتی و عتیقه) به هدف کنترول از تورید، نگهداشت و ترانزیت این طرزالعمل ترتیب گردیده است بناً تمام قدمه های وزارت امور داخله را به تطبیق آن امر می نمایم.

**الحاج خلیفه ملا سراج الدین حقاني**

**د کورنیو چارو وزیر**

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

## سریزه

د اسلامي امارت د نافذه قوانینو، مقرراتو، اصولو او د اسلامي شریعت له احکامو سره سم د پالیسیو او کړنلارو ترتیب او تدوین په اړه د پالیسۍ او ستراتېژۍ معینیت د ۱۴۰۱ کال د تصویب شوي پلان له مخې د ښکاري ټوپکونو د ګټې اخیستنې کړنلاره د ساتلو، واردولو، لېږدولو، پېرلو او پلورلو په موخه په (۴) فصلونو او (۱۷) مادو کې ترتیب او تدوین کړې ده، په دې هیله چې د دې کړنلارې په پلي کېدو سره به په هېواد کې د جرمونو کچه راټیټه، د امنیت او عامه نظم د ګډوډۍ مخنیوی او د وحشي ژویو د ژوندي پاتې کېدلو لپاره به چاپېریال برابر شي.

## مقدمه

معینیت پالیسی واستراتیژی طبق پلان منظور شده سال ۱٤۰۱ مبنی بر ترتیب و تدوین پالیسی ها وطرزالعمل ها مطابق به قوانین نافذه امارت اسلامي، مقررات، اصول و احکام شریعت اسلامی، طرزالعمل استفاده از تفنگ های شکاری را به منظور استفاده، تورید،ترانزیت، خرید، فروش و نگهداشت؛ در (٤) فصل و (۱۷) ماده ترتیب و تدوین نموده است؛ توقع می‌رود با منظوری و تطبیق این طرزالعمل، سطح جرایم درکشور تنزیل یافته و از اخلال امن و نظم عامه جلوگیری و زمینه برای بقای حیات وحش مساعد گردد.

**مولوي عبدالحق مخدوم**

**د پالیسۍ او ستراتېژۍ معین**

د افغانستان اسلامي امارت
د کورنیو چارو وزارت
د پالیسۍ او ستراتېژۍ معینیت
د پالیسۍ او پلان لوی ریاست
۱۴۴۴
۱۴۰۰

## د کړنلارې د تدوین د کاري کمېټې د غړو پېژندنه

ابو ظهیر مولوي شمس الدین منصور د کورنیو چارو وزارت د مقام سلاکار او د پالیسۍ او ستراتېژۍ معینیت مرستیال د

کمېټې د رئیس په توګه..............................(           )

د پلان او پالیسۍ عمومي رئیس، مفتي فضل هادي سالک، د ډلې غړی..............................(           )

د ډاټابېس عمومي مدیر مولوي سعدالله د ډلې غړی..............................(           )

د پالیسیو رئیس، مفتی محمد طیب حقانی د ډلې غړی..............................(           )

د تدقیق او ژباړې مدیر، سمونمل نجیب الله نجیب، د ډلې غړی..............................(           )

د داخلي امنیت د عمومي ریاست استازی حامد رامکي د ډلې غړی..............................(           )

د څارنې او ارزونې د عمومي ریاست استازی توریالی صافی د ډلې غړی ..............................(           )

د عامه خدمتونو ریاست استازی احمد فهیم د ډلې غړی..............................(           )

## لومړی فصل
## عمومي احکام

**مبنی**

**لومړۍ ماده:**

دا کړنلاره د کــــــورنیو چارو وزارت د ۱۴۰۱ هــ ش کـال د منظـور شـوي پـلان مطـابق او د ناریـه وسـلو، مهماتـو او چاودېدونکو توکـو د قانون سره سمه وضع شوې ده.

**موخې**

**دویمه ماده**

۱- د عامه نظم او امن تـامین او د هغـو جرمونـو مخنیـوی چې د ښـکاري ټوپکونـو د ناقانونـه کاروني له امله رامنځته کېږي.

۲- د ښکاري ټوپکونو واردول، ساتل، لېږدول، پېرل او پلورل قانوني کول.

۳- په هېواد کې د وحشي ژویو د ودې او بقـاء لپاره د چاپېریال برابرول.

**د تطبیق ساحه**

**دریمه ماده**

دا کړنلاره په ټولـوحقیقي او حکمـي اشخاصـو ،تولیـدونکو، واردونکـو، خرڅونکیـو، گټـې اخیستونکیو او ساتونکیو شرکتونـو او اړونـدو ادارو د تطبیق وړ ده.

## فصل اول
## احکام عمومی

**مبنی**

**مادۀ اول:**

این طرزالعمل مطابق پلان منظور شده سال ۱۴۰۱ هــ ش وزارت امـور داخلـه و بتاسـی از قانون سلاح ناریه، مهمات و مواد منفلقه وضع شده است.

**اهداف**

**ماده دوم**

۱- تأمین نظم و امن عامه و جلوگیری از وقـوع جرایم ناشی از استفاده غیر قانونی تفنگ هـای شکاری.

۲- قانونمنـد سـاختن توریـد، خریـد و فـروش، نگهداشت و ترانزیت تفنگ های شکاری.

۳ – فراهم سـازی زمینـه جهت رشـد و بقـای حیات وحش درسطح کشور.

**ساحه تطبیق**

**ماده سوم**

این طرزالعمل بالای عموم اشخاص حکمـی و حقیقـی، توریـد کننـده، فروشـنده، ترانزیتـی، اسـتفاده کننـدگان و ادارات ذیـربط در سـطح کشور قابل تطبیق می باشد.

د افغانستان اسلامي امارت
د کورنیو چارو وزارت
د پالیسي او ستراتیژۍ معینیت
۱۴۴۳ هـ ق
۱۴۰۰ هـ ش

## اصطلاحات

**څلورمه ماده:**

په دې کړنلاره کې راغلي اصطلاحات لاندې معناګاني افاده کوي.

**ښکاري ټوپک:** هغه وسیله ده، چې د هغې په واسطه مهمات، د باروتو ګاز او د نورو احتراقي موادو په اثر د ښکار او مختلفو مقاصد لپاره انداخت کېږي.

**د ښکاري ټوپکونو ډولونه:** هغه ښکاري ټوپکونه چې د ښکار لپاره افغانستان ته را واردېږي، له چره يي، موشکش، سپورتي، عتیقه او... ټوپکونو څخه عبارت دي.

**مهمات (کارتوس):** د ساچمې، باروتو، فونیه(فیوز) او پټاقی له ترکیب څخه عبارت دي چې د چاودنې لامل ګرځي.

**ترانزیټ (لېږد):** د هغو توکیو د لېږد او وړلو څخه عبارت دي، چې د ګمرک کېدلو پرته له یو ګمرک څخه بل ګمرک ته وړل کېږي، د انتقالولو لګښت يې کم وي او په هر ګمرک کې يې پلټنه صورت نیسي.

**د واردولو جواز:** یو لیکلی سند دی چې د ښکاري ټوپکونو د واردولو لپاره په شرایطو برابرو غوښتونکیو ته ورکول کېږي.

**اجازه لیک:** دا یو لیکل شوی سند دی چې د افغانستان اسلامي امارت د کورنیو چارو وزارت لخوا د ښکاري وسلو واردولو، خرڅولو، لېږدولو او استعمالولو لپاره وړ شرکتونو ته ورکول کېږي.

## اصطلاحات

**مادۀ چهارم:**

اصطلاحات آتی مفاهیم ذیل را افاده می نماید.

**تفنگ شکاری:** وسیله ای است که توسط آن مهمات، بالاثر گاز باروت و سایر مواد احتراقی به مقاصد مختلف و شکار انداخت می‌گیرد.

**انواع تفنگ های شکاری:** تفنگ های شکاری که در افغانستان وارد و مورد استفاده قرار میگیرد قرار ذیل اند: چره ئی، موشکش، سپورتی، عتیقه وغیره.....

**مهمات (کارتوس):** عبارت از ترکیبی ساچمه، باروت، فونیه (فیوز) و پتاقی بوده که باعث انفلاق می گردد.

**ترانزیت** به معنی حمل و نقل کالایی است که بدون اینکه گمرک شود از گمرکی به گمرک دیگر حمل می شود،هزینه های کمتری پرداخت شده و کالا در هر گمرک مورد بررسی قرار می گیرد.

**جواز تورید:** سند کتبی است که بمنظور وارد نمودن تفنگ های شکاری برای متقاضیان واجد شرایط داده می‌شود.

**اجازه نامه:** سند کتبی است که جهت تورید، فروش، ترانزیت و استفاده از تفنگ شکاری از طرف وزارت امور داخله امارت اسلامی افغانستان، به شرکت های واجد شرایط این طرزالعمل اعطاء می‌گردد.

د افغانستان اسلامي امارت د کورنیو چارو وزارت د پالیسۍ او ستراتیژۍ ... 
۱۴۴۳ هـ ق
۱۴۰۰ هـ ش
د پالیسۍ او پلان لوی ریاست

## دویم فصل

## د جواز صادرول

### د صدور مرجع

**پنځمه ماده**

(۱) د افغانستان اسلامي امارت کورنیو چارو وزارت د جرمونو د موندلو او مبارزې لوی ریاست د نامسؤلو ډلو د بې وسلې کولو ډایاک عمومي مدیریت، د ښکاري ټوپکونو د واردولو او ترانزیت د جوازونو د صدور یوازینۍ مرجع ده.

(۲) د ښکاري ټوپکونو د واردولو هغه غوښتونکي چې تجارتي جوازنامې لري، هغوئ ته د کورنیو چارو وزارت له لوري جلا جوازونه ورکول کیږي.

### د واردولو جواز

**شپږمه ماده**

(۱)د واردولو جواز په A٤ ورقه کې لیکل شوی سند دی، چې د پاڼې پر مخ یې د اسلامي امارت او کورنیو چارو وزارت لوگو نصب شوې وي، د ثبت شمېره او د غوښتونکو (رئیس او مرستیال په گډون) شهرتونه پکې درج، د غوښتونکو تصویرونه پکې نصب، د جواز د پیل او پاې نېټې پرې لیکل شوې او پر شا یې ځانگړی بارکوډ او د جرایمو د موندلو او هغې سره د مبارزې د لوی رئیس لاسلیک او مهر وي.

## فصل دوم

## صدور جواز

### مرجع صدور

**ماده پنجم**

(۱) مدیریت انحلال گروپ های مسلح غیر مسئول مدیریت عمومی دایاک، ریاست عمومی کشف و مبارزه با جرایم وزارت امور داخله امارت اسلامی افغانستان یگانه مرجع صدور جواز، تورید و ترانزیت تفنگ های شکاری می باشد.

(۲) به شرکت های تورید تفنگ های شکاری و مهمات آن به اساس جواز نامه تجارتی فورم جداگانه از طریق ریاست خدمات عامه وزارت امور داخله توزیع می‌گردد.

### جواز تورید

**ماده ششم**

(۱) جواز تورید سند کتبی ورق A٤ بوده، که در حشوه آن لوگو امارت اسلامی و وزارت امور داخله، با ذکر نمبرثبت، شهرت رئیس و معاون شرکت با نصب فوتوی آنها، تاریخ آغاز و ختم جواز، با پس زمینه خاص و بارکد مشخص مزین به مهر و امضاء ریاست عمومی کشف مبارزه باجرایم.

(۲) د تجارتي جواز درلودونکي حقیقي او حکمي اشخاص، د کورنیو چارو وزارت لخوا د ځانګړي جواز په اخیستلو سره، د ښکاري ټوپکونو د واردولو او ترانزیت په برخه کې فعالیتونه تر سره کولای شي.

(۳) د ښکاري ټوپکونو د واردولو او ترانزیت جوازونه د خپلو مالکانو څخه پرته بل هیچا ته د انتقال وړ نه دي، د سرغړونکیو سره یې قانوني چلند کیږي.

**اجازه لیک**

**اوومه ماده**

(۱) په مرکز کې د ښکاري وسلو د ګرځولو جواز غوښتونکي د غوښتنلیک فورمه د کورنیو چارو وزارت د عامه خدمتونو د ریاست څخه تر لاسه کوي او په ولایتونو کې د امنیې قوماندانیو د ډایاګ د معاونیت څخه یې لاسته راوړي.

(۲) د ښکاري ټوپکونو د واردولو د جواز درلودونکي کولای شي چې د استازولۍ (نماینده ګۍ) د اجازه لیک د لاسته راوړلو څخه وروسته په خرڅلاو لاس پورې کړي.

(۲) اشخاص حقیقی و حکمی دارنده جواز تجارتی با اخذ مجوز جداگانه (جواز تورید و ترانزیت) از وزارت امور داخله می‌توانند در راستای تورید و ترانزیت تفنگ های شکاری فعالیت نمایند.

(۳) جواز تورید و ترانزیت تفنگ های شکاری؛ به اشخاص دیگر قابل انتقال نبوده با مرتکبین برخورد قانونی صورت می گیرد.

**اجازه نامه**

**ماده هفتم**

(۱) متقاضی میتواند جواز حمل سلاح تفنگ های شکاری در مرکز از طریق ریاست خدمات عامه وزارت امور داخله اخذ؛ و در ولایات از طریق معاونیت های دایاگ قوماندانی های امنیه به دست اورند.

(۲) تورید کننده گان تفنگ های شکاری بعد از اخذ اجازه نامه نمایندگی به فروشات خویش اقدام می‌نمایند.

## پروسیجر (کړندود)

**اتمه ماده**

د تجارتي جواز درلودونکي حقیقي او حکمي اشخاص کولای شي چې د لاندې شرایطو په پوره کولو سره د واردولو جواز تر لاسه کړي.

(۱) د افغانستان اسلامي امارت د کورنیو چارو وزارت په نامه غوښتنلیک وړاندې کول.

(۲) د عدم مسؤلیت د بهیر بشپړول، د بایومترک او نور معلوماتو تکمیلول.

(۳) د امانت په توګه د مبلغ (۵۰۰۰۰۰) پنځه سوه زره افغانیو بانکي تضمین وړاندې کول.

(٤) د کورنیو چارو وزارت حساب ته د مبلغ (۱۲۰۰۰۰) یو سل او شل زره افغانیو حق الامتیاز تحویلول.

(۵) د ښکاري ټوپکونو د واردولو جواز د اعتبار موده یو کلنه ده.

(٦) هغه دوکانداران چې ښکاري ټوپکونه او د هغوئ ملحقات په پرچون ډول پلوري، د اووه زره (۷۰۰۰) افغانیو په مقابل کې ورته د جرمونو د کشف او پر وړاندې دمبارزې لوی ریاست د ډاياک لوی مدیریت له لوري د فعالیت جواز ویشل کېږي.

## ښکاري ټوپکو ته جواز ورکول

**نهمه ماده**

۱- ددې کړنلارې له مخې په مهماتو او چاودېدونکو توکو کې ټول هغه بهرني اتباع شامل دي چې په هېواد کې مېشت دي.

۲- ددې کړنلارې له پلي کېدو وروسته د ښکاري وسلو خاوندان کولای شي، د شپږو میاشتو په موده کې د خپلو وسلو د ثبت او راجستر په اړه اقدام وکړي.

## پروسیجر

**ماده هشتم**

اشخاص حکمی و حقیقی دارنده گان جواز تجارتی تحت شرایط ذیل میتوانند؛ جواز تورید اخذ نمایند.

(۱) ارایه درخواست کتبی، عنوانی وزارت امور داخله امارت اسلامی افغانستان.

(۲) طی مراحل عدم مسئولیت، بایومتریک و سایر معلومات.

(۳) ارایه تضمین بانکی طور امانت مبلغ (۵۰۰۰۰۰) پنجصد هزار افغانی.

(٤) تحویلی مبلغ (۱۲۰۰۰۰) یک صد و بیست هزار افغانی حق الامتیاز به حساب وزارت امور داخله امارت اسلامی افغانستان.

(۵) معیاد جواز تورید تفنگ های شکاری یک سال می‌باشد.

(٦) آنعده از دوکانداران که تفنگ های شکاری وملحقات آنرا بطور پرچون بفروش میرساند در مقابل مبلغ هفت هزار (۷۰۰۰) افغانی جواز فعالیت از طریق مدیریت عمومی داياک ریاست عمومی کشف و مبارزه با جرایم توزیع میگردد.

## اعطای جواز تفنگ های شکاری

**ماده نهم**

۱. مطابق این طرزالعمل، مهمات و مواد منفلقه شامل حال تمام اتباع خارجی مقیم درکشور می‌گردد.

۲. بعد از انفاذ این طرزالعمل دارنده گان سلاح های شکاری می‌توانند در خلال (٦) ماه به ثبت و راجستر سلاح های دست داشته خویش اقدام نمایند.

۳- هغه کسان چې خپله وسله په ټاکل شوې موده کې په مربوطه مرجع کې ثبت نکړي، وسله يې په موقت ډول د دوو مياشتو لپاره د ولسواليو امنيه قوماندانيو د تروريزم سره د مبارزې په امريتونواو په ولايتونو کې د ډاياک لوی مديريت په مرکزونو کې په امانت ډول ساتل کېږي.

۴- په هغه صورت کې چې د ښکاري ټوپک مالک په پورته ذکر شوې موده کې ثبت او راجستر ته حاضر نشي، ضبط شوی ټوپک د ډاياک پروسې ته سپارل کېږي.

۵- د ښکاري ټوپکونو هغه کورني او بهرني واردونکي او ترانزيتي شرکتونه چې فعاليت يې ددغې کړنلارې د احکامو خلاف وي، د دوئ جواز به د يوې مياشتې په موخه ځنډول کېږي.

٦- د مراکزو اړونـد د جرمونـو د کشف رياست د ډاياک په مديريتونو، او ولسواليو کې د تروريزم سره د مبارزې رياست مامورين مکلف دي چې د ښکاري ټوپکو د ضبط په وخت کې د نوموړي ټوپک د ثبت په منظور د ټوپک د خاوند ليکلی تعهد واخلي.

۷- د ښکاري ټوپکو د واردولو او خرڅولو فعاليتونه په کال کې يو ځل د کورنيو چارو وزارت د اړوندو مسؤلينو لخوا څېړل کېږي.

۸- د تخلف د تکرار په صورت کې د شرکتونو د فعاليت جوازونه په دايمي ډول لغوه کېږي او سرغړونکي يې عدلي او قضايي ارګانونو ته معرفي کېږي.

۳. شخصی که سلاح خویش را در موعد معینه در مراجع مربوط ثبت ننماید؛ سلاح آن طور موقت ضبط و بمدت (۲)ماه در آمریت های مبارزه باتروریزم قوماندانی های امنیه ولسوالی ها و درمرکز ولایات در معاونیت های دایاک امانت نگهداری می گردد.

٤. درصورتیکه مالک تفنگ شکاری درمدت فوق الذکر حاضر به ثبت وراجستر نگردد، تفنگ ضبط شده به پروسه دایاک تسلیم داده می شود.

٥. شرکت های داخلی و خارجی توریدی و ترانزیتی تفنگ های شکاری، درصورتیکه فعالیت شان خلاف مواداتِ مندرجه این طرزالعمل باشد جواز آن ها ضبط و فعالیت شان به مدت (۱) ماه توقف داده می‌شود.

٦. در مرکز مدیریت دایاک ریاست کشف جرایم و در ولایات و ولسوالی ها قدمه های ریاست تروزم مکلف اند حین ضبط موقت تفنگ های شکاری بمنظور ثبت و راجستر تفنگ متذکره تعهد کتبی مالک آنرا اخذ نماید.

۷. فعالیت شرکت های تورید فروشنده تفنگ های شکاری سالانه یک بار از طرف مسئولین ذیربط وزارت اموداخله مورد برسی قرار داده شود.

۸. درصورت تکرار تخلف، جواز شرکت های آن ها بصورت دایمی لغو و متخلفین به ارگان های عدلی و قضایی معرفی می‌گردند.

## د اسنادو طی پړاوونه

**لسمه ماده**

۱- د ښکاري، چره يي، عتيقه او د هغوئ د ملحقاتو د جواز د اخيستلو غوښتنه به د CCID-۱۸ فورم په وسيله طی مراحل کېږي.

۲- د ښکاري، چره يي، عتيقه او د هغوئ د ملحقاتو د واردولو او ترانزيټ جواز اخيستل به د CCID-۱۰ فورم په وسيله طی مراحل کېږي.

۳- پورته ذکر شوي فورمونه په مرکز کې د عامه خدماتو رياست او په ولايتونو کې د ډاياک د امنيه قوماندانيو د معاونيتونو له خوا وېشل کېږي. همدارنګه غوښتونکي کولای شي نوموړي فورمونه د www.moi.gov.af برېښنايي ويب سايټ څخه هم تر لاسه کړي.

۴- غوښتونکي د ښکاري ټوپکونو د واردولو جواز لپاره د غوښتنليک فورمې ټولې مرحلې بايد بشپړې کړي او په تعهد نامه کې په ټولو مواردو د پوهېدلو سره اعتراف وکړي او د فورمې په اخر کې خپله ګوته ولګوي.

۵- غوښتونکي د فورمې او تعهد نامې له ډکولو وروسته په مرکز کې خپلې تعرفې د عامه خدمتونو د رياست او په ولايتونو کې د امنيه قوماندانيو له معاونيتونو څخه تر لاسه کوي او بانک ته يې تحلويلوي.

## طی مراحل اسناد

**ماده دهم**

۱- پروسه درخواست اخذ مجوز فعاليت تفنگ های شکاری، چره يی، عتيقه و ملحقات آن برای متقاضيان ذريعه فورم نمبر (CCID-۱۸) طی مراحل ميگردد.

۲- پروسه اخذ جواز ترانزيت و توريد تفنگ های شکاری، چره يی عتيقه وملحقات آن برای متقاضيان ذريعه فورم نمبر (CCID-۱۰) طی مراحل ميگردد.

۳- فورم های فوق الذکر درمرکز از طريق رياست خدمات عامه و در ولايات از طريق معاونيت های داياک قومندانی های امنيه ولايات توزيع ميگردد و همچنان متقاضيان نيز می توانند فورم را ازطريق ويب سايت انترنيتی (WWW.moi.gov.af) دريافت نمايند.

٤- متقاضی تمامی موارد و مراحل مندرج فورم درخواست مجوز فعاليت توريد تفنگ شکاری را تکميل و به فهم مواد مندرج تعهدنامه اعتراف نموده و در پای فورم مذکور شصت گذارند.

۵- متقاضی بعد از تکميل فورم و تعهدنامه تعرفه را در مرکز از طريق رياست خدمات عامه و در ولايات از معاونيت های داياک قوماندانی های امنيه ولايات اخذ و تحويل بانک نمايد.

۶- تعرفه د ماليې وزارت د ويبپاڼې (RMIS) له لارې په مرکز کې د تعرفو د مامور، د ډاياک مرستيال او د عامه خدمتونو د رئيس تر لاسليک وروسته په ولايتونو کې د ډاياک د مرستيال په وسيله لاسليک او توزيع کېږي.

۷- ټول ترتيب شوي سندونه د پروسې له تکميل او اړونده ادارې له تائيد وروسته د تجارت وزارت په (ACBR) سايټ، د بايومتريک له تصديق، د کورنيو چارو وزارت په جنايي څانګه کې، د مجرمينو ريکارډ د سکتاز سيستم د ماليې تصفيه، د ماليې وزارت او کورنيو چارو وزارت (۳۳۲۰۲۰۹۳۲۰۰۴۲) حساب شمېرې ته د تعرفو تاديه کول په مرکز کې د عامه خدماتو رياست ته او په ولايتونو کې د ولايت د امنيه قوماندانۍ د ډاياک لوی مديريت ته د وروستيو کړنو په خاطر تحويل کېږي.

۸- د نامسؤلو وسله والو ډلو تصفيې مديريت غوښتونکي اسناد مسؤل کميسيون ته وړاندې کوي، د څېړنو او نظرونو ورکولو وروسته د هغوئ په چاپولو او صادرولو اقدام کوي.

۹- غوښتونکي کولای شي چې د ښکاري ټوپکو جواز په مرکز کې د کورنيو چارو وزارت د عامه خدمتونه د رياست او په ولايتونو کې د ډاياک د معاونيت څخه ترلاسه کړي.

۶. تعرفه بانکی ازطريق سايت ( RMIS) وزارت ماليه دريافت و توزيع آن در مرکز بعد از امضای مامور تعرفه، معاون داياک و رئيس خدمات عامه و درولايات به امضای معاون داياک صورت ميگيرد.

۷. اسناد مرتبه بعد از اکمال پروسه و تاييد ادارات ذيربط شامل: سايت (ACBR) وزارت تجارت، تصديق بيومتريک، سوابق مجرمين در رياست جنايي وزارت امور داخله، تصفيه مالياتی سيستم سکتاز وزارت ماليه و پرداخت تعرفه به حساب شماره (۳۳۲۰۲۰۹۳۲۰۰۴۲) وزارت امور داخله در مرکز به رياست خدمات عامه و در ولايات به دفتر مديريت عمومی داياک قوماندانی های امنيه ولايات غرض طی مراحل بعدی تحويل دهد.

۸. مديريت انحلال گروپ های مسلح غير مسؤول اسناد متقاضيان را به کميسيون موظف پيشکش و بعد از بررسی و ابراز نظر به چاپ وصدور آن اقدام می نمايد.

۹. متقاضيان می توانند جواز تفنگ های شکاری را در مرکز از رياست خدمات عامه وزارت امور داخله و در ولايات از مديريت عمومی داياک قوماندانی های امنيه ولايات بدست آورند.

## دریم فصل
## مکلفیتونه

### واردونکي

**یوولسمه ماده**

(۱) واردونکـي کـولای شي چـې د خپلـو رسـمي استازولیو له لارې پېرل او پلور سر ته ورسوي.

(۲) د جـواز درلـودونکي بایـد د هـرې نـوې واردونکـي محمـولې لپـاره د غیرقـانوني وسـله وال ګروپ د انحلال مدیریت څخه جلا لیکلې موافقـه ترلاسه کړي.

(۳) د ښکاري ټوپکونو او مهماتو واردونکي باید د واردولـو څخـه ترمخـه، د واریدېـدونکو اجناسـو ځانګړتیاوې (کمي او کیفـي ) معلومـات د کورنیـو چارو وزارت ته ورکړي او د موافقې د ترلاسه کولـو څخه وروسته چې اجازه لیـک ترلاسـه کـړي، پـه واردولو دې اقدام وکړي.

(٤) د هېواد پـه کچـه واردونکـي کـولای شي چې خپل وارداتي جنسونه، د کورنیـو چـارو وزارت سره ثبت شویو خپلو رسمي استازولیو ته ولېږي.

(۵) واردونکي باید د وارد شـویو توکیـو د پېـر، پلور، ترانزیت او انتقال اړوند بشپړ معلومـات د کورنیو چارو وزارت د جنایي جرمونو د موندلو او هغې سره د مبارزې عـومي ریاسـت د نـا مسـؤلو وسـلوالو ډلـو د انحـلال د عمـومي مدیریت د ډاپاک مدیریت ته ورکړي.

(٦) واردونکي او پلورونکي د دې کړنلارې د موادو په رعایتولو مکلـف دي، د سرغړونـې پـه صورت کې د جدي پوښتنو ګروېږنـو لانـدې نیـول کېـږي او د دې کـړنلارې مطـابق ورسره قانوني چلند کېږي.

## فصل سوم
## مکلفیت ها

### تورید کننده گان

**ماده یازدهم**

(۱) تورید کننده گان می‌توانند؛ خرید و فروش خود را از طریق نماینده گی های رسمی انجام دهند.

(۲) دارنـده گـان مجوز بـرای هـر محمولـه کـه جدیداً وارد می نماید؛ موافقه کتبی جداگانـه از مدیریت انحلال گروپ های مسلح غیرقـانونی اخذ نمایند.

(۳) توریـد کننـده گـان تفنـگ هـای شـکاری و مهـمات آن، قبـل از توریـد، مشخصـات (کمـی و کیفی) اقلام وارداتی مورد نظر خویش را به وزارت امور داخله ارائه نموده و بعد از موافقه، اجازه نامـه رسمی اخذ و به تورید آن اقدام می‌ورزند.

(٤) تورید کننده گـان در سطح کشـور امـوال وارداتی خویش را به نمایندگی های رسمی کـه ثبـت و راجسـتر وزارت امـور داخلـه امـارت اسلامی افغانستان باشد عرضه می توانند.

(۵)دارنده گان مجوز تورید از صـورت خریـد، فـروش، انتقـال، ترانزیـت اقـلام وارده گـزارش مفصل به مدیریت انحلال گروپ هـای مسلح غیر مسئول مـدیریت عمـومی دایـاک ریاسـت عـومی کشـف ومبـارزه بـاجرایم وزارت امـور داخله ارایه می نمایند.

(٦)تورید کننده گان و فروشنده گان مکلف بـه رعایت موادات این طرزالعمل بوده در صـورت تخلف جداً مورد باز پـرس قـرار گرفتـه و بـا ایشـان مطابق این طرزالعمل برخورد صورت می گیرد.

د افغانستان اسلامي امارت
د کورنیو چارو وزارت
د پالیسي او ستراتیژۍ معینیت
۱۴۴۳ هـ ق
۱۴۰۰ هـ ش

## نماینده‌گی او مالکین

**دوولسمه ماده**

(۱) حکمي او حقیقي اشخاص د خپلو غوښتنو سره سم د خپل نظر وړ ټوپکونه یوازې د جوازلرونکو شرکتونو او نماینده ګیو څخه ترلاسه کولای شي.

(۲) پلورونکې نماینده ګي مکلفیت لري چې د پلور پر مهال د پېرېدونکي د تذکرې کاپي تر لاسه او د دې کړنلارې سره مل فورم تکمیل کړي او په دوامداره توګه يې د ولایتونو د امنیه قوماندانیو د ډیاک معاونیتونو ته واستوي.

(۳) د ښکاري ټوپکونو لرونکي دې په ولسوالیو کې د امنیه قوماندانیو د تروریزم برخې ته، او د ولایت په مرکز کې دې د ډیاک معاونیتونو ته د مطلوبه ټوپکونو د ثبت او راجستر لپاره مراجعه وکړي.

(٤) هغه څوک چې خپل ټوپکونه ثبتوي، هغوئ مکلف دي، چې د کورنیو چارو وزارت حساب ته د درې کلونو لپاره (۱۵۰۰) مبلغ افغانی تحویل کړي.

## مسئولې ادارې

**دیارلسمه ماده**

(۱) د کورنیو چارو وزارت د اجازه لیکونو د قانوني کولو او وېشلو د اسانولو لپاره د مرکز څخه د ولایتونو د امنیه قوماندانیو ته واکونه تفویضوي.

(۲) د جوازونو درلودونکي د ټولو هغو مقرراتو په رعایتولو مکلف دي چې په اضطراري، فوق العاده او استثنایي حالاتو کې د دولت له اړخه وضع کېږي.

## نماینده‌گی‌ها و مالکین

**ماده دوازدهم**

(۱) اشخاص حکمی و حقیقی تفنگ های مورد نظر را تنها از شرکت ها و نماینده گی های مجاز بدست آورده می‌توانند.

(۲) نماینده گی هامکلف اند حین فروش از متقاضیان، کاپی تذکره تابعیت را اخذ و فورم جداگانه ضمیمه این طرزالعمل را خانه پری و به صورت دوامدار به معاونیت های دایاک قوماندانی های امنیه ولایات ارسال بدارند.

(۳)دارندگان تفنگ های شکاری به منظور ثبت و راجستر درمرکز به معاونیت های دایاک قوماندانی های امنیه ولایات ودرولسوالی ها به آمریت های تروریزم قوماندانی های امنیه ولسوالی مراجعه وپروسه مزبور را تکمیل نمایند.

(٤) اشخاصی‌که تفنگ های شکاری خویش را ثبت می‌نمایند؛ مکلف به تحویلی مبلغ (۱۵۰۰) افغانی برای سه سال به حساب وزارت امور داخله می‌باشند.

## ادارات مسؤول

**ماده سیزدهم**

(۱) وزارت امور داخله جهت قانونمند ساختن و ایجاد سهولت در روند توزیع اجازه نامه ها از طریق مرکز و قوماندانی های امنیه ولایات کشور، تفویض صلاحیت می‌نماید.

(۲) در حالات اضطرار، فوق العاده و استثنایی هرگونه مقرراتی که از جانب دولت وضع می‌گردد دارندگان مجوز مکلف به رعایت آن می‌باشند.

د افغانستان اسلامي امارت
د کورنیو چارو وزارت
هـ ق ۱۴۴۳
هـ ش ۱۴۰۰

(۳) مـلي پـوليس کـولای شي، چـې د دې کړنلارې د موادو مطابق، د ښکاري ټوپکونـو د واردولو، ترانزيت، حمل ونقل، ساتلو او پېر او پلـور څخـه څارنـه وکـړي او د هغـې څخـه د سرغړونکوسره قانوني چلند وکړي.

(٤) د ولايتونو امنيه قوماندانۍ دې د ښکاري ټوپکونو د ثبتولو په هکله، اړونده شعبې د دې کړنلارې په تطبيقولو مؤظفې کړي او د ډايـاک د مرکزي ادارې د لارښـود سره سـم دې خپلـې اجراات تر سره کړي.

(٥) په حوزو او ولسواليو کې دې اړونده شعبې د ثبـت دفترونـه چمتـو کـړي او د ټوپکونـو درلودونکو د خريدارۍ اسناد دې په هغې کـې درج کړي او د خريد د سند پـه شـا دې د ثبت شماره وليکي او بيا دې مهر کړي.

(٦) اړونـده مديريتونـه دې د ثبت، راجستر او احصائيې لپاره ځانګړي ژورنالونه ترتيب کـړي او پـه تـدريجي ډول دې هغـه پـه يـو مـنظم ډيټابيس تبديل کړي.

(۷) په مرکز کې د دې کړنلارې تطبيق جرمونو سره دمبـارزې او کشـف عمـومي رياسـت د ډاياک لوی مديريت او په ولايتونو کې د امنيه قوماندانيو د اړونده ځانګو دنده ده.

(۸) د کورنيـو چـارو وزارت د ځـانګړې اجـازه ليک پرته، د ښکاري ټوپکونـو جـواز لرونکيـو تجـارتي محمولـو تـه د مـاليې وزارت لخـوا پـه ځمکنـي او هـوايي بنـدرونو کـې د واردولـو او صـــادرولو اجـــازه نـــه ورکـــول کېــږي.

(۳) پـوليس ملـی کشـور می‌توانـد؛ از نحـوه توريد، ترانزيـت، حمـل، نگهداشـت، خريـد و فروش تفنگ های شکاری و مهمات طبق ايـن طرزالعمل نظارت نموده با متخلفين آن برخورد قانونی نمايد.

(٤) قوماندانی های امنيه ولايات شعبات مربوط را جهت ثبت تفنگ هـای شـکاری بـه تطبيق اين طرزالعمل امر و طبق رهنمـود اداره مرکـزی (داياک) اجراأت نمايند.

(٥) شـعبات مربوطـه حـوزات و ولسـوالی هـا، دفاتر ثبت را ايجاد و اسناد خريـد دارنـده گـان تفنگ ها را درج کتاب می‌نماينـد و عقـب آن بعد از ثبت نمبر، مهر می‌گردد.

(٦) مـديريت هـای مربوطـه جهـت ثبـت و راجسـتر و احصـائيه ژورنـال هـای مخصـوص ايجاد و به تدريج به ديتابيس منظم تبديل گردد.

(۷) تطبيـق ايـن طرزالعمـل در مرکـز بـدوش مـديريت عمـومی دايـاک رياسـت عمـومی کشف ومبارزه با جرايم و در ولايات به عهـده قوماندانی های امنيه ولايات و شـعبات ذيـربط آن می‌باشد.

(۸) بـرای محمولـه هـای تجـارتی دارنـده گـان مجوز توريد تفنگ های شکاری، بدون اجـازه نامه جداگانه وزارت امور داخله در بنادر هوايی و زمينـی اجـازه وارد و صـادر از طريـق وزارت ماليه داده نمی‌شود.

د افغانستان اسلامي امارت
د کورنيو چارو وزارت
۱۴۴۳ هـ ق
۱۴۰۰ هـ ش

(۹) د صــنعت او تجــارت وزارت د ښــکاري ټوپکونو د واردونکیو د جوازونو د تمدیدولو پر مهال، د کورنیو چارو وزارت د نظر له اخیستلو څخه پرته اجراأت نه کوي.

(۱۰) د ژویو د ژوند په تړاو د واکمنو مقاماتو هره پریکړه بایـد د چاپېریـال ساتنې د عمـومي ریاسـت لخـوا د کورنیـو چـارو د وزارت سره شریکه شي.

## ممنوعیتونه

### خوارلسمه ماده

(۱) د اسلامي امارت مقاماتو د لـزوم دیـد سره سم، د حیواناتو د ژوند د ساتنې پـه موخـه، پـه هېواد کې ښکار کول منع دي.

(۲) د اتوماتو چره يي ښکاري ټوپکونو واردول جدا ممنوع دي.

(۳) موجوده اتومـات چـره يـي ټوپکونـو چې پخـوا وارد شـوي دي د کـړنلارې سره سـم پـه شرایطو برابرو اشخاصـو تـه د وسلو د ګرځولـو جواز ورکول کېږي.

(۴) هغو کسانو ته چې د باصلاحیته محکمې له خـوا د جنـایي جرمونـو لـه امله پـه مجـازاتو محکوم شوي دي، د ښکار د وسلو د وړلـو او ساتلو د جوازونو وېش نه ترسره کېږي.

(۵) د ښکاري ټوپکونـو یـا د هغې د ملحقـاتو واردونکي د کورنیو چـارو وزارت د مـوافقې د اخیستلو څخه وروسته، د ترانزیت اصول مطابق نه شي کولای، چې هغه پـه هېـواد کـې تخلیـه کړي او په ټاکلي وخـت کـې دې د افغانسـتان خاوره پرېږدي.

(۹) وزارت صنعت و تجارت هنگام تمدیـد مجوز تجارتی تورید کننـده گـان تفنـگ هـای شکاری، بـدون مطالبـه ارائیـه نظـر از وزارت امـور داخلـه اجراأت نمی‌نمایند.

(۱۰) بـا هرگونـه تصـامیم اتخـاذ شـده از طریـق مقامـات ذیصـلاح مبنـی بـر حفـظ وبقـای حیـات وحش، ریاست محافظت از محیط زیست مکلـف بـه اشـتراک گذاشـتن آن بـا وزارت امـور داخلـه پنداشته می‌شود.

## ممنوعیت ها

### ماده چهاردهم

(۱) حسب لزوم دیـد مقامـات رهـبری امـارت اسلامی افغانستان بمنظور حفظ حیـات وحـش در کشور شکار قطعاً ممنوع می‌باشد.

(۲) توریـد تفنـگ هـای شـکاری و چـره ئـی اتومات به صورت قطع ممنوع می‌باشد.

(۳) سلاح های موجود چره ئی اتوماتیک که قبلاً وارد شده مطابق طرزالعمل اعطای مجوز حمـل سـلاح به اشخاص واجد شرایط اجراأت صورت می‌گیرد.

(٤) توزیع مجوز حمـل و نگهداشـت تفنـگ هـای شـکاری بـه آنعـده افرادیکـه بـه حکـم محکمـه ذیصلاح محکوم به مجازات ناشی از جرایم جنایی شده باشند؛ صورت نمی‌گیرد.

(۵) تورید کننـده گـان بعـداز اخـذ موافقـه وزارت امور داخله، مطابق به اصول ترانزیت به هـیچ وجـه تفنـگ هـای شـکاری یـا ملحقـات آن را در داخـل افغانستان تخلیه نه نموده، در وقـت و زمـان معین خاک افغانستان را ترک نمایند.

## څلورم فصل

## متفرقه حکمونه

### خپرول او اړیکې

**پنځلسمه ماده**

د دې کړنلارې د انفاذ څخه وروسته، د کورنیو چارو وزارت د عامه پوهاوي لپاره د عامه اړیکو د ریاست له لارې ځانګړې خپرونې پیل کیږي.

### تطبیق او څارنه

**شپاړسمه ماده**

د دې کړنلارې تطبیقول د جرایمو د موندلو او هغې سره د مبارزې عمومي ریاست دنده ده او څارنه او ارزونه یې د پالیسۍ او ستراتیژۍ د معینیت د څارنې او ارزونې د عمومي ریاست په غاړه ده.

### لوستل او بیا کتنه

**اوو لسمه ماده**

دا کړنلاره هر کال د بیا کتنې وړ ده، چارواکي کولای شي چې د بډاینې لپاره یې خپل نظرونه او وړاندیزونه شریک کړي.

دا کړنلاره په (۴) فصلونو او (۱۷) مادو کې جوړه شوه.

## فصل چهارم

## احکام متفرقه

### نشر و ارتباطات

**ماده پانزدهم**

وزارت امور داخله بعد از انفاذ این طرزالعمل جهت آگاهی عامه از طریق ریاست روابط عامه مواد این طرزالعمل را غرض آگاهی عامه به نشر می سپارد.

### تطبیق و نظارت

**ماده شانزدهم**

تطبیق طرزالعمل هذا به عهده ریاست عمومی کشف و مبارزه باجرایم بوده، نظارت و ارزیابی آن به عهده ریاست عمومی نظارت و ارزیابی معینیت پالیسی و استراتیژی می‌باشد.

### مرور و بازنگری

**ماده هفدهم**

این طرزالعمل همه ساله مطابق نیازمندی ها قابل مرور بوده مسئولین امور نظریات و پیشنهادات خویش را در جهت بهبود و غنامندی آن ابراز نمایند.

این طرزالعمل بداخل (٤) فصل و (١٧) ماده تدوین گردیده است.

په درنښت

مفتي فضل هادي سالک
د پلان او پالیسۍ لوی رئیس

ابوظهیر مولوي شمس الدین منصور د کورنیو چارو وزارت د مقام سلاکار او د پالیسۍ او ستراتیژۍ معینیت مرستیال

د افغانستان اسلامي امارت
د کورنیو چارو وزارت
د پالیسۍ او ستراتیژۍ معینیت
د پالیسۍ او پلان لوی ریاست
۱۴۴۳ هـ ق
۱۴۰۰ هـ ش

د افغانستان اسلامي امارت د کورنیو چارو وزارت

وزارت امور داخله امارت اسلامی افغانستان

Islamic Emirate of Afghanistan Ministry of Interior Affairs

د فورم نمبر (CCID۱۸)

د عامه خدمتونو ریاست

منظور دی
د کورنیو چارو وزیر

د ښکاري ،چره يي ،عتيقه توپکو او ملحقاتو د فعاليت جواز د غوښتنې پروسه

☐ غوښتليک ترلاسه کول ☐ ارزوني او لارښوني ☐ اړونده مرجع ته لیږل ☐ د اړونده اداري اجراات ☐ د اجراتو راپور ☐ غوښتونکي ته ئي سپارل

| | |
|---|---|
| عمومي برخه | د ثبت نېټه / / ۱۳۹۹/ \| د مکتوب د واپس کېدو نېټه / / ۱۳۹۹/ \| د ثبت شمېره |
| | اړونده اداره: د جنائي جرمونو سره د مبارزې لوی رياست |
| | د غوښتنې ډول : د ښکاري توپکونو د وارېدولو د فعاليت اجازه اخيستل |

د غوښتونکي پېژندنه

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| د غوښتنې موخه: نوی ☐ تمديد ☐ | | | | | |
| دویمه برخه | نوم: | تخلص: | د پلار نوم: | د نيکه نوم: | انځور |
| | د اړیکي شمېره: | | د کورنی د غړي د اړیکي شمېره: | | |
| | اصلی استوګنځای | ولایت: | ولسوالی/ناحیه : | کلی/ګذر | |
| | اوسنی استوګنځای | ولایت: | ولسوالی/ناحیه : | کلی/ګذر | |
| | د مرکزي دفتر ادرس | | د ولايتي دفتر ادرس | | |

د اړونده مرجع تصديق

| | |
|---|---|
| دریمه برخه | تصديق کوونکې مرجع :<br>لاسليک او مهر |

د ضمانت کوونکو پېژندنه(دوه تنه دولتي کارکوونکي)تر پنځم بست پورې

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| څلورمه برخه | نوم: | د پلار نوم: | رتبه: | دنده: | انځور |
| | د اړیکي شمېره: | | | | |
| | د دندې ځای او ادرس: | | | | |
| | نوم: | د پلار نوم: | رتبه: | دنده: | انځور |
| | د اړیکي شمېره: | | ایمېل ادرس: | | |
| | زه تضمين کوونکی ژمنه کوم چی که چیرې غوښتونکی واردوونکي اقلام بغير له اجازې ،غيرقانوني وارد او ناوړه کته تری واخلي، موږ مسؤليت لرو چی موضوع اړونده قانوني مرجع ته وړاندې کړو. | | | | |

اړين اسناد:دشرکت د جواز کاپي ☐ د کورنيو چارو وزارت د جواز کاپي ☐ د مالياتي تصفيه مکتوب ☐ د شرکت د رئيس تذکره ☐

پته :هوائي ډګر اتيا متره سرک کابل ـافغانستان- د اړیکي شمېره / ۰۲۰۲۲۰۳۴۸۱- الکترونيکي ادرس

د افغانستان اسلامي امارت
د کورنیو چارو وزارت
... او ستراتیژۍ معینیت
۱۴۴۳ هـ ق
۱۴۰۰ هـ ش
د پالیسۍ او پلان لوی ریاست
۲-۲۴

| |
|---|
| د اړونده اداري تصديق: |
| شمېرو د بايومټريک لوی مديريت تصديق(TCN)<br>لاسليک او مهر(ټاپه) |
| مجرمينو د سوابقو د آمريت تصديق:<br>لاسليک او مهر(ټاپه) |
| ژمنليک<br>زه چې پېژندنه مې پورته ذکر شوې ده، د پېرلو(خريد) د فورم ژمنه کوم. |

**لارښود فورم:**

محترم غوښتونکي د ښکاري، چره يي، عتيقه ټوپکو او ملحقاتو فورم د کورنيو چارو وزارت د عامه خدمتونو مرکز څخه تر لاسه او په لاندې ډول دې طی مراحل او پشپړ کړي.

لومړی برخه: د اداري مربوط کېږي.

دويم برخه: د غوښتونکي بشپړه پېژندنه په واضع او روښانه توگه په فورم کې ليکل.

دريمه برخه: د شرکت ځانگړتياوې په واضع او روښانه توگه په فورم ليکل.

څلورمه برخه: هغه اقلام چې قرار لري غوښتونکی يې را وارد کړي، په پوره تفصيل سره يې په واضع او روښانه توگه په فورم کې ليکل.

د افغانستان اسلامي امارت د کورنیو چارو وزارت

وزارت امور داخله امارت اسلامی افغانستان

Islamic Emirate of Afghanistan Ministry of Interior Affairs

منظور دی
د کورنیو چارو وزیر

د عامه خدمتونو ریاست

د فورم نمبر (۱۰CCID)

د ښکاري ،چره يي ،عتيقه توپکو او ملحقاتو د واردولو په موخه د موافقې د تر لاسه کولو پروسه

☐ غوښتنليک تر لاسه کول ☐ ارزوني او لارښووني ☐ اړونده مرجع ته لیږل ☐ د اړونده اداري اجراات ☐ د اجراتو راپور ☐ غوښتونکي ته ئي سپارل

| | | |
|---|---|---|
| لومړۍ برخه | د ثبت نېټه / / ۱۳۹۹/ | د مکتوب د واپس کېدو نېټه / / ۱۳۹۹/ د ثبت شمېره |
| | اړونده اداره: د جنائي جرمونو سره د مبارزې لوی ریاست | |
| | د غوښتنې ډول : د ښکاري توپکونو د وارېدولو د فعالیت اجازه اخیستل | |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | د غوښتونکي پېژندنه | | | | |
| دوهمه برخه | نوم: | تخلص: | د پلار نوم: | د نیکه نوم: | انځور |
| | د اړیکي شمېره: | | د کورنی د غړي د اړیکي شمېره: | | |
| | اصلي استوګنځای: | ولایت: | ولسوالی/ناحیه : | کلی/ګذر | |
| | اوسنی استوګنځای: | ولایت: | ولسوالی/ناحیه : | کلی/ګذر | |
| | د تذکرې شمېره: | | اوسنی دنده: | | |

| | | | |
|---|---|---|---|
| دریمه برخه | د شرکت ځانګړتیاوې | | |
| | د تجارتي شرکت بشپړ نوم: | | د کورنیو چارو وزارت د جواز شمېره: |
| | د جواز د صدور نېټه: / ۱۴۰۱/ | د پای نېټه: / ۱۴۰۱/ | تشخصیه نمبر(TIN): |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| څلورمه برخه | د واردونکو اقلامو تفصیل | | | | |
| | شمېره | د اقلامو نوم | شمېر | مقدار | ملاحظات |
| | ۱ | | | | |
| | ۲ | | | | |
| | ۳ | | | | |
| | ۴ | | | | |
| | ۵ | | | | |
| | بندرونه | | | | |

جرمونو سره د مبارزې او کشف د عمومي رئیس لاسلیک

اړین اسناد:دشرکت د جواز کاپي ☐ د کورنیو چارو وزارت د جواز کاپي ☐ د مالیاتي تصفیه مکتوب ☐ د شرکت د رئیس د تذکره ☐

پته : هوائي ډګر اتیا متره سرک کابل ـ افغانستان- د اړیکي شمېره / ۰۲۰۲۲۰۳۴۸۱- الکترونیکي ادرس